## د ټاکنو د خپلواک کمیسیون پریکړه

| | |
|---|---|
| د پریکړې شمیره: | ۱۶- ۱۳۸۹ |
| موضوع: | د ولسي جرګې د ټاکنو د عملیاتي پلان، د ټاکنو د عمومي مهالویش او د هغو کاندیدانو د لومړني لست خپرولو په اړه بحث چې په لومړۍ مرحله کې د کاندیدانو په لومړني لست کې شامل نه وو. |
| مرجع: | د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د دارالانشاء ریاست |
| وخت، نیټه او د ملاقات ځای: | د ۱۳۸۹ هـ ل کال د غبرګولي ۱۳، چې د ۲۰۱۰ زیږدیز کال د جون له ۳ نېټې سره سمون لري. د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر. |
| حاضرغړي : | ښاغلی فضل احمد معنوي ، ښاغلی ستر جنرال محمد ایوب اصیل ، آغلي مومنه یاري ، آغلي مستوره ستانیکزی، ، ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني، ښاغلی قاضي سلیمان حامد او ښاغلی عبدالخالق حسیني پشه ئي . |

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د اساسي قانون د ۱۵۶ مادې پربنسټ،

**د ټاکنو خپلواک کمیسیون په اجنډا کې د شاملو موضوعاتو په اړه لاندې پریکړې وکړې:**

1. د ټاکنو عملیاتي پلان او عمومي مهالویش چې له دې پریکړه لیک سره مل دی تایید او تصویب دی.
2. د هغو کاندیدانو لومړنی لست چې په لومړني پړاو کې یې د کاندیدتوب شرایط نه وو بشپړ کړي، خو د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون د پریکړې له مخې یې نوموړې شرطونه پوره کړي باید خپور کړل شي.